


ځه تمه باید ولرئ؟

# زما د پناه غوښتنې غوښتنلیک

کله چې تاسې یوه تصمیم ته په تمه یاست، نو له اجازې پرته کوم بل هېواد ته **مه ځئ**.

- که چېرې تاسې بېرته خپل هېواد ته په دې خاطر نه شئ تلای چې په کې خوندي نه یاست، **نو کولای شئ دلته د پناه غوښتنه وکړئ**.
- پناه غوښتنې ته همداشان **نړیواله ساتنه** هم وایي.
- **یو ماشوم (تر 18 کلنۍ ټیټ)** کوم چې یوازې راغلی وي داسې کس ورته ګومارل کېږي چې هغه ته سرپرست وایي او ورسره مرسته کوي.
- د ټولو معلوماتو له کتلو وروسته، چارواکي به دا تصمیم ونیسي چې **ایا تاسې پناه غوښتنې ته اړتیا لرئ که نه**.

## نوملیکنه

چارواکي به **ستاسې غوښتنلیک ثبت کړي**، ستاسې **انځور** او د **ګوتو نښې** (که چېرې تاسې تر 6 کلنۍ پورته یاست) واخلي او ستاسې اسناد به وګوري.

تاسې ته به **یو سند درکړل شي** چې هغه به د دې ښکارندوی وي **چې ګواکې تاسې د پناه غوښتنه کړې ده**. دا سند خوندي درسره وساتئ.

له نوملیکنې وروسته، تاسې ته به د مصاحبې لپاره یو بلنلیک درکړل شي چې په هغه کې به **نېټه**، **وخت** او **ځای** لیکلې وي.

## خپلې مصاحبې ته انتظار وباسئ

تاسې به په یوه **خوندي ځای** کې واوسئ. د انتظار په وخت کې، هڅه وکړئ چې **ځان بوخت وساتئ**.

سیمه ییزه ژبه زده کړئ، نوي ملګري ومومئ، سپورټ وکړئ او سالم پاتې شئ.

له یوه حقوقي سلاکار یا له خپل سرپرست څخه وغواړئ چې **مصاحبې ته د چمتووالي** په برخه کې درسره مرسته وکړي.



**د خپلې پناه غوښتنې مصاحبه له لاسه مه ورکوئ!** که چېرې ناروغه یاست، نو بیا چارواکو ته خبر ورکړئ.

## ستاسې د پناه غوښتنې مصاحبه

**له تاسې به دا پوښتنې وشي چې ولې مو خپل هېواد پرېښنی دی**، ستاسې د کورنۍ او په خپل هېواد کې ستاسې د ژوندانه او تر دې ځای ستاسې د سفر په اړه به پوښتنې درڅخه وشي.

د خپلې کېسې د ملاتړ لپاره له ځان سره **اسناد** (تذکره، انځورونه، رپوټونه) **راوړئ**.

## که چېرې تصمیم

**له ځو میاشتو وروسته** به تاسې د خپلې قضیې په اړه یو تصمیم تر لاسه

که چېرې مثبت وي، نو بیا کولای شئ په دې هېواد کې پاتې شئ او یوه دایمي کور ته ستانه شئ.

**که چېرې دا تصمیم منفي وي**، نو تاسې ته به بېرته خپل هېواد ته د خوندي ستنیدو په اړه غوراوي درکړل شي. که چېرې له دې تصمیم سره مخالف یاست، نو کولای شئ په رسمي ډول هغه ونګوئ. دې کار ته **اپیل** (استیناف) ویل کېږي.

## په یاد ولرئ

- د خپل ستنېدا په اړه یا دا چې څرنګه د یوه منفي تصمیم پر وړاندې اپیل وکړئ نو تاسې کولای شئ د مشورې لپاره یو وکیل ووینئ.
- که چېرې تاسې د هغوی په ژبه نه پوهیږئ نو د یوه ژباړن غوښتنه وکړئ.
- که تاسې د افسر له خوا پوښتل شوو پوښتنو ته ځواب نشئ ویلای، نو کولای شئ ورته وواياست چې ځواب نه شم درکولای.
- ټول افسران باید له تاسې سره په درناوي چلند وکړي.
- له افسرانو سره همکاري وکړئ. که د دوی خبرې ناسمې یا مبهمې وي، له هغوی وغواړئ چې وضاحت ورکړي.



Pashto

EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

© پناه غوښتنې لپاره د اروپایي اتحادیې اداره، 2025